ډاکتـر صلاح الدين سعيـدی – سـعيـد افـغـانـی ۲۰۰۹/۰۵/۲۰م

# که په ريـښتـيـا هم مثـبت بـدلـون غـواړی نـو تـفـاهـم وکړی!

(د افغانستان د ۱۳۸۸ د ولسمشرۍ د ټولټاکنو په هکله يـو څـو ټـکی)

په دوه برخو کې/ دوهمه برخه! ۲/۲

**آمـــا د حل لار څــه ده او څه بايد وکـړو؟**

په افغانستان کې د ټولټاکنو ۴۴ کانديدان اکثرا خلک نه پيژنی او يا هم ورسره لږ شناخت لری. ددوی شخصيت، کارنامی او کړنلاری چاته معلومی ندی. ددی امکانات نلری چه خپل معاونين او کاری برنامی د خلکو غوږو ته و رسوی. نو په داسی وضعه کی لار څه ده او څه بايد وشی؟ دا کانديدان د مادی له لحاظه هم ستونزی لری. ويلای شو چه اکثره يی حتی د سفر کولو او اعلاناتو پيسی نه لری.

دا مسلمه او څرګنده خبر ده چه ټاکنو او انتخاباتو ته تګ رای او وټ ورکول په دی معنا ده چه:

- ما د هغه او يا دغه کانديد شخصيت مطالعه کړ،
- کړنلاره او او لار ليک می ورته و لوست، زما باور دی چه دا کړنلاره عوامفريبی نه ده او عملی ده،
- ددی کانديد کاری ټيم او رهبری را ته د متجانس او مشابه لار ليک خاوندان معلوم شول،
- ددوی سابقه، تجربه او مسلکی پوهه او سياسی کرکتر می مطالعه کړ او ...

نو ددی ټولو په نتيجه کی په دی می تصميم ونيوه چه د افغانستان د زعامت او رهبری لپاره هغه او يا دغه شخصيت او شخصيتونه ا و يا هم هغه او يا دغه نسخه او کړنلاره درسته او زما د تائيد وړ ده زه يی انتخابوم او نورو ته يی سپارښت هم کوم. دداسی غوره شوی او حسابی تصميم مثال او بيلګه هم د افغانستان د صلحی د فعالينو د سازمان اعلاميه چه د محترم ډاکتر خداياداد بشرمل لخوا د محترم ډاکتراشرف غنی احمد زی د افغانستان د جمهوری رياست د کانديد په تاييد څو ورځی د مخه په مطبوعاتو کی خپره شوه.

هو مونږ ته په کار ده چه د کانديدانو کړنلاری او شخصيتونه په ښه توګه مطالعه کړو او همغه په خپل زعامت وټاکو چه دی وطن د خدمت مصدر ګرځيدای شی.
هو مونږ ته په کار ده چه خپل درست او پر ځای تشخيص نورو ته هم سفارش کړو.
مونږ ته په کار ده چه خپل زعامت وحدت، تفاهم او د خير لپاره نيک تفاهم او يو له بل سره د همکاری لاری ته را وبولو.
مونږ ته په کار ده چه د خير خواه کانديد او يا کانداديان وپيژنو او دهمکاری او نيک تفاهم مشوری ورکړو.

داچه ما يو سياسی شخصيت په تيرو آتو کالو کی آزمويلی، ددی شخصيت او کرکتر راته معلوم شو او عملا می وليد چه څه يی کول او څه کوی، داچه د رياست جمهوری د کانديد او دهغه د پيشنهاد شوی معاونانو ترمنځ د شخصيت او کړنلاری په ارتباط ستر او نه قبليدونکی توفير وينم.
که يو کانديد او د هغه معاونان په تيرو کلو کی په عمل کی غلط کادری سياسيت چه په کورنی، قومی او جيبی بنياد ولاړ وه را ته معلوم دی،
- که يو کانديد او د هغه معاونان په سلګونو انسانان وژلی او يا يی په وژلو امر کړی او يا ورته زمينه برابره کړی،او په دشتو کی يی په ګوليو ويشتی، سياسی او جنګی اسيران يی وژلی،
- او که يو کانديد او د هغه معاونان قومی او قبيلوی ناخوالو او بی عدالتيو او شخړو ته لمن وهلی او خلک د قوم اوقبيلی په نامه جنګوی تر څو خپل سياست پست تثبيت کړی،
- او که يو کانديد او د هغه معاونان خپله سياسی بقاء په پورنتيو منفی انکشافاتو کی ګوری،
- نو که يو کانديد او د هغه معاونان خلکو ته څه د وعدی او ويلو نه لری، مشخصه کړنلاره او برنامه نه لری،
- نو که يو کانديد او د هغه معاونان خپله د قانون خلاف عمل کړی وی د افغانستان په خرابی کې مستقيم سهم اخيستی وی او حتی ډله ايز قاتل وی،

نو زه په خپل تصميم کی په قاطعيت استدلال کولای شم چه څوک به مناسب او څوک به غير مناسب کانديد وی.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئولیت املایی و انشایی نوشته ها به دوش خود نویسنده میباشد، خواهشمندیم مطلب خود را بعد ازغور کامل بما ارسال بدارید.

کله چه دا کاندیدان ګورم او پیژنم نو همغه یو قصه را یاده شي:
واده وه او د شپې ډوډی جوړه شوه چه سبا به خلکو ته ورکول کیږی. یو سپین ږیری غږ کړ چه د شپې به په ډوډی یو څوک دروی چه د پخی شوی ډوډی څارنه او ساتنه به کوی. هغه یوه کس غږ کړل چه زه آماده او تیار یم چه د شپې په ډوډی پهره او ساتنه وکړم. خلکو یو بل ته په حیرت و کتل او له نزاکته او حیاء یی هیڅ ونه ویلی او غلی شول. خو ده سپین سترګی او بی حیا بیا ناری کړی چه زه آماده یم چه د شپې په ډوډی پهره او ساتنه وکړم. نو یو سپین ږیری پری غږ کړل. ځه ولاړ شه! هسی خبری مه کوه . مونږ پهره او ساتندوی ټاکو او انتخابوو چه دا ډوډی له تا نه وساتو چه غلا یی نه کړی او ته اوس وایی چه ته د شپې پری پهره او ساتنه کوی. دا عجبه ده !

نو لار او چاره څه ده او څوک باید انتخاب کړو؟
آیا د افغانستان په ټولټاکنو کی خپل کاندیدی واپس اخیستل د مقاطعی او د وطن سره د بی علاقګی مانا لری؟ زما په پوهه نه.
آیا ټولټاکنو کې نه ګډون او له سره مقاطعه کول ښه لار ده؟ که داسی وکړو نو سناریو به څه وی؟
زمونږ هیواد په یو معیینه انکشافی پړاو او مرحله کې قرار لری. د قانون نه تخلف او مافیایی روابط حاکم دی. اوسنی حاکمیت او ډیرو کاندیدانو ته ټولټاکنی د قدرت نیول او ادامه ده او کومه مشخصی کاری نسخه چه د افغانستان د خلکو د نجات او خلاصون نسخه وی وجود نه لری. عملا او په اوسنیو حالاتو کې د افغانستان د جمهوری ریاست د وړنی لپاره زمونږ به هیواد کې عملی کنترول ډیر سخت کاردی. تخنیکی او فنی لازمی تیاری او آمادګی نه شته. د چاپ شو ورقو لست د کنترول تضمین نه شته، د رایه ورکوونکی دقیق شمیر او تعداد او دقیقه احصایه چا ته معلومه نه دی، والی، قومندان ، رنګ، صندوق او ورقی عملا د همغه په اصطلاح مستقل کمیسون په لاس کی دی چه د هغوی ماهیت مو پورته څه ناڅه تشریح کړ.
نو تاسی ویلی شی چه نتیجه به څه وی؟
**هو یواځنی تضمین او یواځنی لار همغه د تفاهم لار او قوت جوړولو لا ر ده . که ریښتیا هم تغییر غواړی نو بیا تفاهم وکړی!!!**
نو بیا باید په دی فکر وکړو چه لاری کومی دی؟
زه په دی باور یم قوی زعامت او رهبری چه وکولاشی دا کشتی د غرقیدو نه خلاصه کړی. پوښتنه داسی ده چه دا ملت به بلاخره کله داسی زعامت پیدا کوی چه د هغوی خدمتګار وی. آیا داسی زعامتونه د آسمانه را غورځی او یا هم باید د همدی ټولنی له خوا وړاندی کړای شی.
زه په دی باور یم چه دا ټولنه ډیر ښه او ستر شخصیتونه لری چه ددی وطن به ښه زعامت وکړی. د داسی شخصیتونو باید په تمام دقت او په تمام قوت پلوی وشی.
ددی هدف د لاس ته راوړلو له پاره یو هم ټولټاکنی او انتخابات دی. مونږ ته په کار ده چه په دی ماموریت او رسالت کې فعاله ونډه واخلو.
همغسی چه مو وویلی:
- حتمی نه ده چه مونږ دی باید انتخاب شـو.
- حتمی نه ده چه مونږ تا باید په دی مقام راکړل شی.
- حتمی نه ده چه مونږ باید مرکزی نقطه اوسو. اما حتمی ده په حق ځان پوه کړو، حق ته تسلیم شو، خلکو ته حق ورسو او د حق نصیحت و کړو ( و العصر ان الانسان لفی خسر – الا الذین آمنو و عملوا الصالحت و تواصو بالحق و تواصو بالمرحمه – صدق الله العظیم - قسم په عصر د انسان په خساره کې دی – په استثنا د هغو چه ایمان یی راوړی، صالح عمل کوی، یو بل ته د خیر او مرحمه نصیحت کوی ).

ددی اهدافو درسیدو لاری: په حق او سمه لار ځان پوهول، د ښو او حق پـربنـاء هلی ځلی کول او نورو ته رسول. د حق لپاره په مبارزه کې بشریت همدا موجوده دموکراتیک سیستم لری. د افغانی دموکراسی په ریښتنی مفهوم ځان پوهول او د سیستم د جوړولو او ټینګولو لپاره کار کول. ورانکار او خاینین په ګوته کول په کار دی. په دی باندی ځان پوه کړو چه ژوندی دایمی قهرمانان او دایمی رهبران وجود نلری. په اعمالوکې نیت او خاتمه مهمه ده( انماالاعمال بالنیات و انما الاعمال باالخواتیم....) نو له همدی کبله دعا کوو خدایا نیت مو پاک کړی او خاتمه مو ښه کړی. د سیستم د تقوییی لپاره د قانون په چوکاټ کی عمل کول، لاس ته راغلو بریو ته ادامه ورکول - په کار دی.

**په ټولټاکنو کې ونډه اخیستل او ملت ته ددی زمینه برابرول چه خپله خپل سرنوشت په خپل لاس کی ونیسی دا یو انسانی او اسلامی او متمدن کار دی. ملت باید په خپل سرنوشت کې د تصمیم حق ولری. اما دا ددی مانا نه لری چه په قیمت باید ټولټاکنو کی ونډه واخلو. خپل تمام جد او جهد باید وکړو چه د قانون څخه د تخلف مخه ونیول شوی. که موفق نه شو نو بیا اعتراض او مقاطقه په کار ده.**
له دی لاری دنیا ته او به افغانستان کی حاکمانو ته د ویلو وړ ګڼم چه په قاعده او اصولو عمل و نه کړی، که خلکو ته او هغه خواستو ته پام و نکړی، ددی ملت آه او اوښکو او وینی نوری هم توی کړی – نو به یقین ویلی شم

چه ددوی د زړونو آه به تاسی وسوځوی. ستاسی ظلم به ستاسی د تباهی موجب شی، قیامونه او غیر متمدنانه حرکات به ادامه و مومی. دا ملت په تاریخ کی نورو آزمویلی تاسی یی هم و آزمایی. ډیری بدی او تاریخی درسونه به تر لاسه کړی.
زما سپارښت دادی چه همدا اوس هم فرصت ورکړی چه ملت خپل سرنوشت په لاس کې و نیسی. د صلح او د خلکو د تباهی لاره مه غوره کوی.
مونږ ته په کار ده چه لاس سره ورکړو. مصلح خیر خواه او زړه سوانده انسانان باید او باید خپل رسالت اداء کړی.
زما سپارښت دادی که سیااسی رقابت هم لری مشترکو او ګډو اهدافو باندی ګډ کار کول په کار دی. دا یو ضرورت دی.

دا مشترک کار، یو والی او ښه تفاهم په څه مانا دی؟
- دامشترک کار او نیک تفاهم ددی په مانا نـدی چه حزب اسلامی، د طالبانو جنبش او .... اوسنی حاکمیت دی د وزارتونو چوکیو او ګویا غنیمت مال؟! سره وویشی او په هر بیه چه کیږی - دی وطن کی صلحه راشی.
داسی تفاهم ښه تفاهم نه دی او داسی کړنلاره د افغانستان اوسنی حاکمیت ته د شرم خبر ده. دا حاکمیت ددی صلاحیت نه لری چه د طالب حرکت او یا حزب اسلامی ته د افغانستان په سیاسی قدرت کې ونډه ورکړی. د حزب اسلامی او طالب حرکت ته د شرم خبر ده چه د خپلی چوکی او سعادت او مشروعیت د اوسنی حاکمیت نه تر لاسه کړی. دا د موضوع او تفاهم یو کاملا غلط تعبیر دی. ملت باید د تصمیم صلاحیت ولری. د حاکمیت مشروعیت د ملت څخه او د ملت نه تر لاسه کیږی. دا نه یو قومی مسأله ده او نه هم دینی. د افغانستان ملت مسلمان دی او خپل انتخاب لری. د افغانستان ملت د قومونو او میلیتونو نه تشکل میندلی او خپل انتخاب لری. د افغانستان ملت مظلوم او زجر لیدلی ملت دی خپل انتخاب لری.
- دولت او دهغه دری ګانه قواوی کومه تجریدی خبر نه ده. هغه دولت چه د ملت نه پورته شوی وی هغه ارزښتونو ته به احترام او خدمت کوی چه ملت یی غواړی.
- د سیکولاریزم، د قومی اقلیت او اکثریت او دینی او ..... تاکیدات هغه وخت زیات کیږی چه په هغه هیواد کی دموکراسی نه وی او حاکمان کله د کودتا او کله هم د بـــن د کنفرانس او اجانبو له خوا تحمیلږی. نو چو معیارونه غیر نور مال دی. او حاکمان په غیر نورمال توګه تعیینیږی او د ملت په سر درول کیږی. نو بیا وایی چه پورتنی مسایل او ملحوظات باید او باید مراعات شی.
- که آزادی او دموکراسی په شفافه توګه تأمین شی، که آزاد او شفافه ټولټاکنی تر سره شی، خلک په آزادی سره صندوقونو کې رای واچوی - نو با بیا پورتینو تأکیداتو ته ضرورت نه شته. مرغی له قفسه خوشی کړه او حاجت نه شته چه وزر وهل ور ته زده کړی.
دامشترک کار او نیک تفاهم ددی په مانا نـدی چه د بل کاندید د کړنلاری سره سل په سلو که توافق و لری
دا توافق او مشترک کار او نیک تفاهم په تغییر باندی توافق، د قانون په تطبیق باندی توافق، د ټولټاکنو په شفافیت باندی توافق، په ټولټاکنو کی د عالی سیاسی کلتور مراعات، واقعیت نګری او ریال فکر کول دی.
دا توافق - توافق پر نه همکاری د هغه ځواکونو سره چه د وطن په خرابی اخته دی و سیستم خرابوی
توافق او تفاهم پر دی دی چه دلوبی قواعد او قاعدی روښانه کړو، توافق او تفاهم پردی دی چه څنګه وکولای شو تر ځو د بهرنیو هیوادو له مرستو څخه د حاکمو کاندیدان په ګټه فایده وانه خیستل شی.
دا توافق توافق پر راتلونکی توافق دی. دا توافق او قرار داد توافق او تفاهم په راتلوونکی تفاهم او قرار داد دی. زه په دی باور یم چه د افغانستان اوسنی ټولټاکنی به دوهم پړاو ته ځی. زه په دی باور یم چه که په دی دوره کې په یو معیین کاندید توافق نه کیږی نو حد اقلا په دوهم پړاو کی په یو معیین و مشخص کاندید چه په افغانستان کی مثبت تغییر غواړی توافق او یووالی راشی.
مونږ په دی باور یو چه په تیرو اتو کلو کلو لکه د پخوا په شان د امکاناتو څخه ښه ګټه وانه خیستل شوه. تیر اته کلنه دوره موفقانه دوره نه وه. په جدی او حتمی ډول او زمانه دا حکم کوی که مثبت تغییر غواړی. نوی قوی کاری منجمنت او اداری ته ضرورت دی.
نوکه په ریښتیا مثبت تغییر غواړی نو باید او باید نیک او خیرخواهانه توافق او تفاهم ته ضرورت دی. دا تفاهم کې باید او باید د افغان ملت منافع او مصالح په نظر کی ونیول شی. په تأکید تکراروم چه بله لار نه شته.
دا حتی د سیاسی حریفانو توافق د آینده حکومتی کرسیو په تقسیم توافق نه دی او باید نه وی. دا توافق د منت ګذاری په مانا نه دی. دا توافق او تفاهم د اصولو نه تیریدل نه دی.
دا توافق او تفاهم د ټولو هغه صالحو دوستو او خیر خواهاه انسانو او سیاسی ګوندونو او ټولګیو توافق او تفاهم دی چه دوطن سرنوشت او راتلوونکی ورته مهمه ده.
دا نیک توافق او تفاهم، تدبر ، سیاسی درایت او واقعبینی - ددی وطن د خـیــر او سعادت، صلح او وروری لپاره د مشترک کار توافق او نیک تفاهم دی.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

نو راځی چه پورتنی ضرورت درک او ځان پری پوه کړو او په یوه قوی افغانی عظم او کلکی ارادی د افغانستان د مسلمانو او زجر لیدلی ملت ژوبړ ته کلکه ملا و تړو او هر یو په هر ځای او هر مقام کې چه یاستو ددی ستر رسالت د اداء کولو لپاره په پوره جرئت او میرانه کار او عملی مؤثر اقدامات وکړو.

پای

و السلام – فاعتبروا یا اولی الابصار